پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۹/۱۷

# د افغانستان سیاسي - تأریخي- جغرافیوي ژورنال

## پینځم توک

دوه سوه او اویایمه پرله پسېبرخه

## کندهار

ایډیت:

ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT

GRAZ – AUSTRIA

1980

* **زابل** : زابل د افغانستان په سویل – مرکز کې یو ولایت دی چې ۱۷۰۶۸ کیلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچینو ئې د وګړو شمیر د ۴۷۷۶۲ تر ۵۶۶۰۶ تنو تر منځ اټکل کړی دی. دا ولایت په لویدیځ کې د کندهار، په شمال لویدیځ کې د روزګان، په شمال ختیځ او ختیځ کې د غزني له ولایتونو سره ګډه پوله لري. دا ولایت د دای چوپان، ارغنداب، شاه جوی، شینکی، قلات او جلدک په ولسوالیو او د میزان، اتغر او شملزیو په علاقه داریو ویشل سوی سوی دی. ددې ولایت عمده غرونه «سور غر»[1]، دای چوپان دي او عمده سیندونه ئې «لوړه شینکی» [2]، ارغنداب او ترنک دي.

ددې ولایت اقتصاد په زراغت او پووندو ولاړ دی. دا ولایت د یوۀ والي تر اداري لاندې دی، په ۱۹۷۰ز کال کې ددې ولایت والي سخي احمد فرهاد نومیدۀ. د ولسوالیو د پولو لپاره وګوری راتلونکې نقشه.

د ولسوالیو لیست، د کرهني او اوبو لګولو د چارو د وزارت د احصائیې ریاست ورکړی دی؛ بشپړ معلومات په راتلونکو لښتلیکونو یا جدولونو کې وګورئ.

**زګرکه کلا** : ــ ۳۲، ــ ۶۷ : دا د خشک رود پر غاړه د قلات غلزایي په ختیځ کې یوه کنډواله کلا ده. «ایلیس ۱۸۸۰» *په دې نوم یو کلی په درۀ لیګان کې په ۵۵ ــ ۳۳، ۲ ــ ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.*

[1] - Sur Ghar
[2] - Lola Shinkai


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

* **زاغک** : ۴۱ ــ ۳۳، ۳۵ ــ ۶۵ «ن» : دا د روزګان په ولایت کې د «چغان»[3] په سویل لویدیځ کې د درهٔ خودي پر غاړې یو کلی دی.

**زاهدانه** : ــ۳۱، ــ ۶۷ : دا یوه ناله ده چې د نارین په سویل ختیځ کې په غرونو کې راپورته او په نهم مایل کې د ثلثون د سیند له کیڼې غاړې سره د نارین له خولې پورته یو ځای کیږي. «بن» اوسنی نقشې په دې سیمې کې د زیهاد نوم په ۳۱ ــ ۴۸، ۳۱ ــ ۶۶ «ن» کې ښیي.

**زاهـُد** : ــ ۳۱، ــ ۶۵ : دا د کندهار په سویل کې له دِه خواجه ورهاخوا یو کلی دی. «آی. بي. سي.»




3 - Chaghan



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| د کروندګرو وګړو او تر کښت لاندې ځمکو اټکليزه احصائيه | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | کلي | کروندګر وګړي | ځمکوال | تر کښت لاندې ځمکه په جريب | | | تر کښت لاندې ځمکه په هکتار | | |
| | | | | خړوبه | للمه | ټولټال | خړوبه | للمه | ټولټال |
| قلات | ۷۰ | ۲۸۴۷۰ | ۱۹۵۰ | ۲۹۸۰۰ | ۱۱۶۲۰ | ۴۱۴۲۰ | ۵۹۶۰ | ۲۳۲۴ | ۸۲۸۴ |
| ارغنداب | ۳۵ | ۱۴۰۶۰ | ۱۲۵۰ | ۱۷۱۰۰ | — | ۱۷۱۰۰ | ۳۴۲۰ | — | ۳۴۲۰ |
| جلدک | ۹۳ | ۴۵۲۶۰ | ۲۱۰۰ | ۲۹۴۹۰ | ۱۵۵۵۰ | ۴۵۰۴۰ | ۵۸۹۸ | ۳۱۱۰ | ۹۰۰۸ |
| دای چوپان | ۴۶ | ۱۹۲۶۰ | ۱۵۴۰ | ۲۳۶۲۰ | ۷۵۴۰ | ۳۱۱۶۰ | ۴۷۲۴ | ۱۵۰۸ | ۶۲۳۲ |
| شاه جوی | ۱۱۹ | ۴۸۲۳۰ | ۳۶۸۰ | ۶۵۵۲۰ | ۲۳۷۰۰ | ۸۹۲۲۰ | ۱۳۱۰۴ | ۴۷۴۰ | ۱۷۸۴۴ |
| شينکی | ۹۶ | ۳۸۸۸۰ | ۲۹۶۰ | ۴۲۳۴۰ | — | ۴۲۳۴۰ | ۸۴۶۸ | — | ۸۴۶۸ |
| اتغر* | ۳۰ | ۱۲۱۷۰ | ۹۸۰ | ۱۲۲۰۰ | — | ۱۲۲۰۰ | ۲۴۴۰ | — | ۲۴۴۰ |
| شملزي | ۱۵۰ | ۵۴۹۹۰ | ۴۶۲۰ | ۸۷۰۰۰ | ۲۷۸۲۰ | ۱۱۴۸۲۰ | ۱۷۴۰۰ | ۵۵۶۴ | ۲۲۹۶۴ |
| ميزان | ۱۳ | ۶۰۳۰ | ۶۲۰ | ۵۶۱۰ | ۵۵۵۰ | ۱۱۱۶۰ | ۱۱۲۲ | ۱۱۱۰ | ۲۲۳۲ |
| ټولټال | ۶۵۲ | ۲۶۷۳۵۰ | ۱۹۷۰۰ | ۳۱۲۶۸۰ | ۹۱۷۸۰ | ۴۰۴۴۶۰ | ۶۲۵۳۶ | ۱۸۳۵۶ | ۸۰۸۹۲ |
| * په انګليسي متن کې ئـې په تيروتنې اصغر ليکلي دي. - ژ | | | | | | | | | |

| خړوبه ځمکه او د اوبو لګولو سرچينې ئـې | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | ساحه په جريب | | | | ټولټال | د سرچينو شميرې | | | | ژرندې |
| | نهرونه | چينې | کاريزونه | څاهان | | نهرونه | چينې | کاريزونه | څاهان | |
| قلات | ۲۵۲۰۰ | ۱۲۰۰ | ۳۴۰۰ | — | ۲۹۸۰۰ | ۲۲ | ۳۶ | ۹۶ | — | ۴۲ |
| ارغنداب | ۱۶۰۰۰ | ۱۱۰۰ | — | — | ۱۷۱۰۰ | ۲۷ | ۳۵ | ۴ | — | ۶۶ |
| جلدک | ۲۵۹۸۰ | ۹۰۰ | ۲۶۱۰ | — | ۲۹۴۹۰ | ۲۸ | ۱۱ | ۸۴ | — | ۱۴ |
| دای چوپان | ۱۸۵۰۰ | ۵۱۲۰ | — | — | ۲۳۶۲۰ | ۷۶ | ۳۲۵ | - | — | ۸۵ |
| شاه جوی | ۵۷۵۱۰ | ۲۷۱۰ | ۴۸۰۰ | ۵۰۰ | ۶۵۵۲۰ | ۳۵ | ۹۸ | ۲۰۸ | ۱۱۴ | ۵۱ |
| شينکی | ۲۹۲۴۰ | ۵۵۰۰ | ۷۶۰۰ | — | ۴۲۳۴۰ | ۳ | ۵۰ | ۱۲۷ | — | ۲۳ |
| اتغر* | ۱۴۰۰۰ | ۳۸۰۰۰ | ۳۵۰۰۰ | — | ۸۷۰۰۰ | ۱ | ۱۴۵ | ۱۷۹ | ۴ | ۵۱ |
| شملزي | - | ۱۴۰۰ | ۴۲۱۰ | — | ۵۶۱۰ | - | ۶ | ۲۹ | — | ۲۱ |
| ميزان | ۱۹۰۰ | ۴۰۰۰ | ۶۳۰۰ | — | ۱۲۲۰۰ | ۴ | ۵۰ | ۱۶ | — | ۲۰ |
| ټولټال | ۱۸۸۳۳۰ | ۵۹۹۳۰ | ۶۳۹۲۰ | ۵۰۰ | ۳۱۲۶۸۰ | ۱۹۹ | ۷۵۶ | ۷۴۳ | ۱۴۸ | ۳۷۳ |
| * په انګليسي متن کې ئـې په تيروتنې اصغر ليکلي دي. - ژ | | | | | | | | | | |

| ولسوالي | د مالدارۍ او د چرګانو احصائيوي اټکل د لسواليو او علاقه داريو پر بنسټ | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | پسونه | قره قل | وزې | کورنۍ غاروي | ګاو ميښې | اوښان | آسونه | خرونه | کچرې | چرګان |
| قلات | ۳۶۳۸۰ | — | ۲۹۰۰ | ۲۰۰۰ | — | ۳۰۰ | ۹۰ | ۳۱۲۰ | — | ۱۱۱۸۰ |
| ارغنداب | ۲۸۳۳۰ | — | ۲۶۱۰ | ۳۰۶۰ | — | ۶۰۰ | ۱۷۰ | ۲۹۷۰ | — | ۱۰۶۳۰ |
| جلدک | ۳۲۰۹۰ | — | ۵۰۵۰ | ۱۲۳۰ | — | ۱۴۰۰ | ۲۴۰ | ۴۹۲۰ | — | ۹۶۶۰ |


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دای چوپان | ٣٦٣٥٠ | — | ١٨١١٠ | ٩١٢٠ | — | ٩٣٠ | ١٤٠ | ٥٠٧٠ | — | ١٥٩٦٠ |
| شاه جوی | ٤١٥٤٠ | — | ٩٧١٠ | ٥٨٠٠ | — | ٤٢١٠ | ٣٣٠ | ٤٢٠٠ | — | ٣٦٦٨٠ |
| شینکۍ | ٣٦٩٤٠ | — | ٤٥٢٠ | ٢٤٤٠ | — | ١٥٠٠ | ١٤٠ | ٣٤٥٠ | — | ٢١١٥٠ |
| اتغر* | ٢٨٨٣٠ | — | ٢٩٠٠ | ١٦٧٠ | — | ٣٦٠ | ٩٠ | ٢٦٥٠ | — | ١٠٢٤٠ |
| شملزي | ٥١٨٩٠ | — | ٥٩٧٠ | ٤٧٣٠ | — | ١٢٥٠ | ٣٥٠ | ٢٦٢٠ | — | ٢٤٤٠ |
| میزان | ٣٠٠٤٠ | — | ٢٥٥٠ | ١٤٦٠ | — | ١٧٠ | ٨٠ | ٢٨٤٠ | — | ٢٤٤٠ |
| ټولټال | ٣٢٢٣٩٠ | — | ٥٤٣٢٠ | ٣١٥١٠ | — | ١٠٧٢٠ | ١٦٣٠ | ٣١٨٤٠ | — | ١٤٧٢٠٠ |

* په انګلیسي متن کې ئـې په تیروتنې اصغر لیکلي دي. - ژ

| د کښت وړ ځمکې ټولټال – په محصول – په کابلي جریب | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالۍ | غلات | | ټولټال | ترکاري | صنعتي کرنیز محصولات | نور محصولات | میوه جات | د کښت وړ ځمکو ټولټال |
| | غوربه | للمه | | | | | | |
| قلات | ٢٢٤٩٠ | ٢٤٥٠ | ٢٤٩٤٠ | ٢٢١٠ | – | ١١٠٠ | ١٤٠٠ | ٢٩٦٥٠ |
| ارغنداب | ١٢٢٨٠ | — | ١٢٢٨٠ | ٣٥٠ | ١٣٠ | ٦٥٠ | ١٠٤٠ | ١٤٤٥٠ |
| جلدک | ٢٥١٠٠ | ٥٢٨٠ | ٣٠٣٨٠ | ٥٤٠ | ١٢٠ | ١١٠٠ | ١٧٠٠ | ٣٣٨٤٠ |
| دای چوپان | ١٧٧٨٠ | ٣٢٠٠ | ٢٠٩٨٠ | — | — | ١٧٢٠ | ٩٦٠ | ٢٣٦٦٠ |
| شاه جوی | ٤٨٨٩٠ | ١٠٩٣٠ | ٥٩٨٢٠ | — | — | ٢٢٢٠ | ٣٨٧٠ | ٦٥٩١٠ |
| شینکۍ | ٣٠٨٠٠ | — | ٣٠٨٠٠ | — | — | ٣٢٤٠ | ١٨٠٠ | ٣٥٨٤٠ |
| اتغر* | ٨٠٣٥٠ | ١٨٣٩٠ | ٩٤٧٤٠ | — | — | — | — | ٩٨٧٤٠ |
| شملزي | ٨٨٣٠ | — | ٨٨٣٠ | — | — | — | ٩٨٠ | ٩٨١٠ |
| میزان | ١١٣٨٠ | ٥٥٥٠ | ١٦٩٣٠ | ٣٥٠ | ١٠٠ | ٦٤٠ | ١٠٤٠ | ١٩٠٦٠ |
| ټولټال | ٢٥٧٩٠٠ | ٤٥٨٠٠ | ٣٠٣٧٠٠ | ٣٣٥٠ | ٣٥٠ | ١٠٦٧٠ | ١٢٧٩٠ | ٣٣٠٩٦٠ |

* په انګلیسي متن کې ئـې په تیروتنې اصغر لیکلي دي. - ژ

| **د کښت وړ ځمکې ټولټال په کابلي جریب** | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **ولسوالۍ** | **هغه ځمکه چې یو کال کرل کیږي بل کال نـهٔ** | **تر کښت لاندې ځمکه** | **ځنګلونه** | **پووندې** | **ټولټال*** |
| قلات | ١١٧٧٠ | ٤١٤٢٠ | ١٥٠ | ٣٢٥٢٠ | ٧٤٠٩٠ |
| ارغنداب | ٤٥٥٠ | ١٧١٠٠ | ٢٥٠ | ١٤٦٢٠ | ٣١٩٧٠ |
| جلدک | ٧٥٠٠ | ٤٥٠٤٠ | — | ٢٢٢٤٠ | ٦٧٢٨٠ |
| دای چوپان | ٧٥٠٠ | ٣١١٦٠ | — | ١٤٩٠٠ | ٤٦٠٦٠ |
| شاه جوی | ٢٣٣١٠ | ٨٩٢٢٠ | ٦٠٠ | ٥٢٨٣٠ | ١٤٢٦٥٠ |
| شینکۍ | ١١٢٠٠ | ٤٢٣٤٠ | — | ٦٤٤٦٠ | ١٠٦٨٠٠ |
| اتغر** | ٣٠٦٧٠ | ١١٤٨٢٠ | — | ٦٨٥٥٠ | ١٨٣٣٧٠ |
| شملزي | ٣٥٩٠ | ١٢٢٠٠ | — | ١٤٩٩٠ | ٢٧١٩٠ |
| میزان | ٤٥٥٠ | ١١١٦٠ | — | ١٤٥٩٠ | ٢٥٧٥٠ |
| ټولټال | ١٠٨٣٤٠ | ٤٠٤٤٦٠ | ١٠٠٠ | ٢٩٩٧٠٠ | ١٠٥١٠٦ |

* د کښت وړ ځمکې ټولټال له هغـهٔ ټولټال سره سمون نـهٔ خوري چې په دې ستون کې لودویک آدمک ورکړی دی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

** په انګلیسي متن کې ئې په تیروتنې اصغر لیکلي دي. - ژ

د کرنیزو تولیداتو محصول په کابلي جریب

| ولسوالی | غلات | | تولټال | ترکاري | نور محصولات | | میوه جات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | خروبه | للمه | | | صنعتي | نور مؤقت | |
| قلات | ۸۵۴۶۲۰ | ۳۶۷۵۰ | ۸۹۱۳۷۰ | ۳۳۸۱۳۰ | ـ | ۲۲۰۰۰۰ | ۲۲۴۰۰۰ |
| ارغنداب | ۴۶۶۶۴۰ | ـ | ۴۶۶۶۴۰ | ۵۳۵۵۰ | ۴۵۵۰ | ۱۳۰۰۰۰ | ۱۶۶۴۰۰ |
| جلدک | ۹۵۳۸۰۰ | ۷۹۲۰۰ | ۱۰۳۳۰۰۰ | ۸۲۶۲۰ | ۴۲۰۰ | ۲۲۰۰۰۰ | ۲۷۲۰۰۰ |
| دای چوپان | ۶۷۵۶۴۰ | ۴۸۰۰۰ | ۷۲۳۶۴۰ | ـ | ـ | ۳۴۴۰۰۰ | ۱۵۳۶۰۰ |
| شاه جوی | ۱۸۵۷۸۲۰ | ۱۶۳۹۵۰ | ۲۰۲۱۷۷۰ | ـ | ـ | ۴۴۴۰۰۰ | ۶۱۹۲۰۰ |
| شینکی | ۱۱۷۰۴۰۰ | ـ | ۱۱۷۰۴۰۰ | ـ | ـ | ۶۴۸۰۰۰ | ۲۸۸۰۰۰ |
| اتغر * | ۳۰۵۳۳۰۰ | ۲۷۵۸۵۰ | ۳۳۲۹۱۵۰ | ـ | ـ | ـ | ـ |
| شملزي | ۳۳۵۵۴۰ | ـ | ۳۳۵۵۴۰ | ـ | ـ | ـ | ۱۵۶۸۰۰ |
| میزان | ۴۳۲۴۴۰ | ۸۳۲۵۰ | ۵۱۵۶۹۰ | ۵۳۵۵۰ | ۳۵۵۰ | ۱۲۸۰۰۰ | ۱۶۶۴۰۰ |
| تولټال | ۹۸۰۰۲۰۰ | ۶۸۷۰۰۰ | ۱۰۴۸۷۲۰۰ | ۵۲۷۸۵۰ | ۱۲۲۵۰ | ۲۱۳۴۰۰۰ | ۲۰۴۶۴۰۰ |

** په انګلیسي متن کې ئې په تیروتنې اصغر لیکلي دي. - ژ

**زیل آباد** : ــ ۳۱، ــ ۶۵ : دا د خاکریز په درې کې یو کلی دی. «لینس»

**زین آباد** : یا زن آباد : ۴۵ ــ ۳۱، ۵۸ ــ ۶۵ «ن» : دا د کندهار د شمال ختیځ په تقریباً ۱۲ مایلی کې «میر شي» [4] ته نیږدې یو کلی کلی دی. «بیسکو»

**زاکرد** : «ذاکر» : ۳۳ ــ ۳۱، ۴۵ ــ ۶۵ «ن» : دا د کندهار د سویل ختیځ په ۴ مایلی کې یو کلی دی. دا کلی د خوشاب له لارې تخته پل ته د تللې لارې په اوږدو کې د زاکرد د کوتل د کندهار په خوا کې دی. «بیسکو» اوسنی نقشې د «ذاکر شریف» نوم په دې سیمې کې ښیي.

**زکو زي** : زاکو زي : دا د بریڅانو یوه څانګه ده. همدا شان په دې نوم یو کلی په ۳۵ ــ ۳۳، ۳۲ ــ ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.

**زکو : زاکو** : ۲۴ ــ ۳۱، ۲۸ ــ ۶۷ «ج» : دا د رشید د کلا د او ښادي خاک د کوتل تر منځ غرنی سیمې کې د پسین د قبیلې د کمپ یوه سیمه ده. دلته د څمکو د خروبولو لپاره د اوبو د راټولولو دوی زیرمې سته او سویل ته نیم مایل وړاندې د اوبو یوه چینه ده چې اوبـهٔ ئـې دغه زیرمې ډکوي. «بن. ۱۸۹۴»

**ځلخان** : ۳۱ ــ ۳۱، ۴۲ ــ ۶۵ : دا کندهار د هغو ځلورو کلیو له منځه یو کلی دی چې نادر شاه «افشار ــ ژ» په ۱۷۳۸ز کال کې د کندهار له نیولو وروسته د ښار اصلي پارسیوانو استوګنو وګړو ته ورکړي ول.

دا کلی د ښار د سویل په تقریباً ۵ مایلی کې موقعیت لري. «آی.بي. سي.»

**زمان کاریز** : ــ ۳۱، ــ ۶۵ : دا د کندهار د ختیځ په ۱۴ مایلی کې «شکر ګنج» ته نیږدې یو کلی دی. «بیسکو»

**زمبورک** : زنبورک : دا د خاکریز په درې کې یو کلی دی. «لینس» *په دې نامـهٔ یو ځای د اسد د کلا د شمال په تقریباً ۱۰ مایلی کې په ۱۱ ــ ۳۲، ۳۱ ــ ۶۵ «ج» کې موقعیت لري.*

4 - Mirshai



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاږوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

* **زن آباد** : ۴۵ – ۳۱، ۵۷ – ۶۵ «ن» : دا د ترنک د سیند د یوې ځانګې پر غاړې د کندهار په ولایت کې د نظر د کلا د شمال په تقریباً ۵ مایلۍ کې یو کلی دی. همدا شان وګورئ : زین آباد

**زنار خیل** [5] : ــ ۳۱، ــ ۶۸ : دا د زمریاني قبیلې یو کوچنی کلی دی چې د کافر سنځلي او د کچ خوارهٔ د سیندونو د یو ځای کیدنې ټکې ته نیږدې موقعیت لري. «بن»

* **زنده** : ۵۷ – ۳۱، ۵۱ – ۶۵ «ن» : دا د کندهار په ولایت کې د ارغنداب د جهیل د شمال په تقریباً ۵ مایلۍ کې د «المش ماندې» [6] پر غاړې یو کلی دی.

* **زنګ آباد/ زنګاوات** : ۲۷ – ۳۱، ۲۱ – ۶۵ «ن» : دا د تالو کان د ختیځ په ۲ مایلۍ کې د «ډورۍ د سیند» [7] د شمال په تقریباً ۲ مایلۍ کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل کلی د کندهار په ولایت کې ۴ مایله وړاندې شمال ختیځ کې موقعیت لري.
همدا شان وګورئ : زنګي آباد

**ځنګله** : دا د وازې خوا د غرنۍ لړۍ په لویدیځې خوا کې په یوې ناهموارې سیمې کې یو کلی دی. د تره کو د قبیلې هغه وګړي چې دلته استوګن دي تول ئې شپانهٔ دي او کرکیله نهٔ لري. «بومې معلومات ۱۸۹۲» *په دې نوم یو کوتل سته چې په ۱۱ - ۳۲، ۱ – ۶۸ «ج» کې او یو ځای په ۱۲ - ۳۲، ۵۷ – ۶۷ «ج» کې موقعیت لري.*

**زنګ آوه** : دا د زنګي آباد لپاره یو بل نوم دی.

**زنګي آباد/ زنګاوات** : زنګ آباد : ۲۹ – ۳۱، ۲۴ – ۶۵ «ن» : دا د ارغنداب او د ډورۍ د سیندونو په دو آب کې یو مهم کلی دی چې د ارغنداب د سیند په کیڼې غاړې کې له سپیروان لړ کوز واقع دی. دا کلی ۳ کوچني کلي لري او ټولټال ۱۴۷ کورونه دي چې د وګړو شمیر ئې ۵۰۲ تنه دی، دا وګړي د ماکو او خوګیانیو له قبیلو څخه دي. د کلي په شمالي منتهی الیه کې د سیند د کړیدلو ټکې ته څیرمه د کمپ لپاره ښهٔ ځای سته چې د سپیروان د کلي له سویلي انتها څخه ۴/۱ مایله کوز او په کیڼه غاړه کې د سیاه چوب په مقابل لوري کې موقعیت لري. د ځښاک د اوبو ځای د کمپ له سیمې لړ کوز ځای کې چې پر سیند باندې مسلط ځای دی واقع او له ۳ خواوو څخه یوهٔ ژور کاریز محصور کړی دی. دا کلی د هغو کلیو له ډلې څخه یو کلی دی چې ټول ئې په ګډه د څهار دهي په نوم یادیږي او د پیژندلو آسانه نښه ئې د کلي په شمالي انتها کې یو لوړ برج دي. له دې ځایه وربشې په پریمانه اندازه تر لاسه کیدای سي، د ۱۸۸۰ز کال د اکتوبر په میاشت کې دلته پریمانه رشقه وه خو بهوسه په ندرت موندل کیدله او همدا شان سون لرګي په قلت ول.
د ۱۸۸۰ز کا د اکتوبر په میاشت کې په زنګي آباد کې د شیانو بیعه په لاندې ډول وه :

| | |
|---|---|
| اوړه «آټا» | ۸ سیره په ۱ روپۍ |
| وربشې | ۱۶ سیره په ۱ روپۍ |
| بهوسه | ۲۴ سیره په ۱ روپۍ |
| زیر غوړي | ۲/۱ ۱ سیر په ۱ روپۍ |
| رشقه | ۳۰ بندله په ۱ روپۍ |

5 - ZANAR KHEL
6 - Almish Mandeh
7 - Duri river


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا کلی کله نا کله د «زنگ آوي» او ښايي د څهار دهي په نوم هم ياد سي. «بيسکو، هنل، ميتلند، آی. بي. سي.»

**زرک** : ۴۷ – ۳۱، ۱۵ – ۶۵ «ن» : دا د خاکريز د ولسوالی تر ټولو سويلي ترينه کلي دي چې د «جوي جليل نالي» [8] د شمال په تقريباً ۵ مايلی کې واقع دي، دا ناله خاکريز له ميوند او کشک نخود څخه جلا کوي او د «لالک» د کوتل خولي ته نيږدې موقعيت لري. ددغو کليو استوګن وګړي محمدزي دي. دا کلي د هغي ناله پر غاړې واقع دي چې د خاکريز او کشک نخود له منځه بهيږي. «لينس، ليچ»

**زره قلعه** : زره کلا : ۵۴ – ۳۱، ۲۷ – ۶۸ «الف» : دا د تره کي تيورې د ولسوالی په سويل ختيځې انتها کې يو کنډواله کلی دی. دا کلی په ۲ برخو کې دی؛ يو مهال دلته تره کي غلزي او لواني اوسيدل ؛ ويل کيږي چې دا خلک په ترتيب لويي کلا او د صالح کاريز ته کډه سول او دا کلی ئـي پريښود. «بن» ددې ځای نوم د «کوښک کاه» او «کوچک کاه» [9] په نوم ليکل سوی دی. *په دې نوم بل ځای په ۵۹ – ۳۰، ۱۶ – ۶۶ «ن» کې موقعيت لري.*

**زرک کاريز** : ۳۰ – ۳۱، ۵۰ – ۶۵ : دا د کندهار د سويل ختيځ په ۲/۱ ۸ مايلی کې له خوشاب «خوږې اوبـهٔ - ژ» ۱ مايل ورهاخوا يو کلی دی. «بيسکو»

**زره مزره اوَز**: «زره مزرع عوض؟» [10] : دا د ارغنداب په درې کې د پاتاب د نهر پر غاړې د «مزره د ناوې» [11] له شمالي برخې سره جوخت، د بابا ولي د شمال په ۴/۳ مايلی کې واقع يو کلی دی. «بيسکو»

* **زرد آلو** : ۴۹ – ۳۱، ۴ – ۶۵ «ن» : دا د کندهار په ولايت کې د ميوند د شمال لويديځ په تقريباً ۸ مايلی کې د «ګرم آبک» په ساحه کې يو کلی دی. په دې نوم يو بل ځای د ارغنداب د کلي په سويل ختيځ کې او د «اماران/ عمران» [12] په ۳۰ – ۳۲، ۶ – ۶۷ «ن» کې او د «لوی زردآلود» د سويل ختيځ په ۲ مايلی کې موقعيت لري. په دې نوم يو بل کلی د ګمبد د سيند په تقريباً ۲ مايلی کې په ۳۴ – ۳۳، ۵۹ – ۶۶ «ن» کې موقعيت لري.

* **زردارګين ؟ – ۳۴، – ۶۶** : دا د روزګان په ولايت کې د سنګِ تخت د سويل لويديځ په تقريباً ۵ مايلی کې د سنګِ تخت د سيند د يوې څانګې پر غاړې يو کلی دی.

* **زرد ګي** : ۵۵ – ۳۲، ۱۱ – ۶۷ «ن» : دا د روزګان په ولايت کې د چورې د شمال ختيځ په تقريباً ۱۰ مايلی کې د کميسان د سيند پر غاړه يو کلی دی.

* **زرد سنګ** : ۳۹ – ۳۳، ۱۷ – ۶۶ «ن» : دا د روزګان په ولايت کې د شهرستان شمال ته د تللي لارې په اوږدو کې د هلمند له سينده تقريباً ۲ مايله ليرې يو کلی دی.

**زرد تله** : ۵۰ – ۳۳، ۲۸ – ۶۷ «ن» : دا د روزګان په ولايت کې د ګرم آب د سويل په تقريباً ۸ مايلی کې د تاله د سيند پر غاړه يو کلی دی.

---

8 - Jawai Jalil Nala

9 - Kowtsakkah and Kochakka

10 - ZARA MAZRA AVAS : په انګليسي متن کې ئـي په عربي الفبا «زره مزرع عوض» ليکلي دي او زما ژباړونکي په باور ددې نوم لومړی برخه بايد «زره» وي او بله برخه ئـي د بلوڅي «مزره» وي چې په بلوڅي کې د «بچار» يا «لمونځ» په معنی ده او «عوض» يا «اوز» هم بايد بلوڅي وي چې زه ئـي په معنی نـهٔ پوهيږم - ژ

11 - Nawa Mazra

12 - Amaran


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

* **زرغاو** : ۳۷ – ۳۳، ۱۴ – ۶۶ «ن» : دا د روزګان په ولايت کې د «کوهٔ شاه ليج» [13] او د «کوهٔ سه چوواک» [14] تر منځ د «رود خوردک» [15] پر غاړې يو کلی دی.

* **زرين کلی** : ۲ – ۳۱، ۲۰ – ۶۶ «ن» : دا د کندهار په ولايت کې د سپين بولدک د شمال لويديځ په تقريباً ۶ مايلی کې کندهار ته د تللي سړک په سويل کې يو کلی دی.

* **زرني** : ۵۲ – ۳۲، ۳۶ – ۶۶ «ن» : دا د روزګان په ولايت کې، فيروز کلي ته د لاړې په اوږدو کې د روزګان د کلي د سويل لويديځ په تقريباً ۵ مايلی کې يو کلی دی.

* **زرني کلی** : دا د کندهار او د روزګان د ولايتونو د پولې پر غاړې «غني ګې» [16] ته نيږدې د «زرني دشت» [17] په ساحه کې يو کلی دی.

**زرسنګ** : ۲۱ – ۳۳، ۳۰ – ۶۵ «ن» : دا د روزګان په ولايت کې د «کجران» په تقريباً ۱۰ مايلی کې د کجران د سيند پر غاړه يو کلی دی.

* **خوان** :؟ : ۵۴ – ۳۲، ۵۰ – ۶۶ «ن» :دا د روزګان، غزني او د زابل د ولايتونو تر منځ د پولې پر غاړې د «باقي» [18] د سويل لويديځ په تقريباً ۶ مايلی کې او د روزګان د کلي د ختيځ په تقريباً ۱۵ مايلی کې يو کلی دی.

* **زوره؟** : ژوره : ۵۲ – ۳۱، ۲ – ۶۷ «ن» : دا پوتي ته نيږدې د «لوړه د سيند» د شمال په تقريباً ۵ مايلی کې د زابل په ولايت کې د «بورَګي» [19] شمال ته د تللي لارې په اوږدو کې يو کلی دی.

* **زوَرکان** : ۳۳ – ۳۱، ۵ – ۶۷ «ن» : دا د کندهار په ولايت کې د «رود معروف» د سويل په تقريباً ۴ مايلی کې او د «ناوه» په سويل لويديځ کې يو کلی دی.

* **زر بَلَک** : ۵۲- ۳۳، ۱۴ – ۶۶ «ن» : دا د روزګان په ولايت کې د «ککرک» کلي ته نيږدې د «شيخ ميران» د سيند پر غاړه يو کلی دی.

**ژوبی** : ۳۸ – ۳۱، ۴۴ – ۶۷ «ن» : دا د رشيد د کلا په شمال ختيځ کې د کند د سيند له ښي غاړې سره موازي غځيدلې يوه غرنۍ لړۍ دي. «آی. بي. سي.»

**زيارت** : ۵۹ – ۲۹، ۵۹ – ۶۵ «ن» : د ا په ښوراوک کې د جت پوتي د سويل لويديځ په ۲/۱ ۸ مايلی کې د سيد بت د لارې پر غاړې يو زيارت او يو کوچنی کلی دی. دا د ډورۍ يا د لوړه د نالې پر کيڼې غاړې په هغهٔ ټکی کې موقعيت لري چې سيند له دښتي وځي او د شګو په غونډيو ننوځي. دا کلی يو فقير شانته کلی دی چې ۲۰ جونګړې لري او استوګن وګړي ئې فقيران دي، دوی ښادي زي سيدان دي چې په اصل کې د پښين دي. دوی خپل ځانونه «کـِج» [20] بولي.

13 -Koh -i- Shahlej
14 -Koh -i- Sehchuwak
15 -Rud- i- Khurdak
16 -Ghanigay
17 -Zarni Dasht area
18 - Baki
19 -Buragay
20 - Kejh


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په ۱۸۸۱ز کال کې ددې کلي ملک «آزرغ شاه»[21] نومیدهٔ چې زوړ بوډا سړی وو او نوم ئـې ډېر معمول نوم نه وو. دلته ډېره لږ د کرهنې ځمکه سته، سیدان یوازې څو اوښان لري، ددوی ژوند و ژواک په خیراتونو چلیږي. زیارت تک سپین رنګ سوی دی چې د «میا محمد» د جسد پرسر ودان سوی دی؛ نوموړی ددې سیمې کوم روحاني وو چې په همدې سیمې کې ئـې څه ناڅه شهرت درلود. د کلي سویل کې د کمپ لپاره ښه ډېره ځمکه سته. د څښاک اوبـهٔ ئـې چې د ډوری له سیند څخه دي پریمانه دي. د پخلنګ لپاره په کافي اندازې سون لرګي سته. ددې ځای د اوښ څر ځایونه له ژمي پرته نور فوق العاده عالي دي. د اړتیا وړ باید مخکې له مخکې له ځان سره راوړل سي یا دې مخکې له مخکې راټول سي په ځانګړې توګه اوړهٔ او وربشې. په ښوراوک کې د وربشو تر لاسه کول تل ستونزمن وي. واښـهٔ کیدای سي له ریګستان څخه تر لاسه سي. د ښوراوک ستر کلی یعنی د مندوزیو کلی ختیځ لور ته ۲/۱ ۳ مایله لیرې له دې ځایه له ورایه ښکاري. سید بت تقریباً ۱۷ مایله لیرې دی. «میټلند» *دا زیارت د ملا یونس د زیارت په نوم یادیږي. د زیارت په نوم نور ځایونه په ۴۳ ــ ۳۲، ۲۵ ــ ۶۵ «ج»؛ په ۱۷ ــ ۳۱، ۴۶ ــ ۶۶ «ج»؛ او په ۵ ــ ۳۲، ۵۳ ــ ۶۵ «ج» کې موقعیت لري.*

**زیجه** : یا : زیږه : ۳۴ ــ ۳۱، ۳۲ ــ ۶۶ : دا د ارغسان په درې کې یو غر دی چې د هیلوګرافی د سینګالونو د سټیشن لپاره مناسب دی. له دې ځایه د تګک له کوتل، د شیخ خان له غرهٔ او و چ غوبرک سره سیګنالونه تبادله کیدای سي. «مسي» ویل سوي چې دلته د ۵۰ خاصه دارانو یو پوسته هم ځای پر ځای ده. «آی. بي.سي. ۱۹۰۵»

**زیرک** : دا د درانیانو یوه ستره څانګه ده.

**زیوه** : ــ ۳۲، ــ ۶۵ : دا د ارغنداب په درې کې د دهلې یوه علاقه ده. «بیسکو» *په دې نوم یو بل کلی د مقر د ختیځ په تقریباً ۵ مایلی کې په ۱ ــ ۳۲، ۵۶ ــ ۶۵ «ج» کې موقعیت لري.*

**زیږه** : زیږه : وګورئ : قندیل

**زیږه** : ۳۴ ــ ۳۱، ۳۲ ــ ۶۶ : دا د یوهٔ غرهٔ په توګه شرحه سوی چې په لمن کې ئـې له ارغسان سره د لوړه د سیند د یو ځای کیدنې ټکی دی. ظاهراً دا هماغه زیجه ده چې یادونه ئـې پورته وسوه.

**زمریاني** : دا په سلیمان خیلو پورې اړوند یوه قبیله ده چې په شمال کې او د تیورې په ختیځ کې ژوند کوي او ټول ټال ۴۰ کورنۍ دي. داسي ښکاري چې ددې قبیلې په هکله دومره ډېر معلومات نـهٔ سته چې د ثبت کولو لپاره دې وړ وي، خو دومره ویلای سو چې ډېر غریب او فقیر خلک دي او تر ډېره یوه مذهبي فرقه ده. دوی په دوبي کې مقر ته کډه کیږي او په ژمي کې په تیورې کې پاتې کیږي. په ۱۸۹۴ز کال کې ددوی ملک، سمندر نومیدهٔ، سمندر د لونګ زوی وو، د هغه په نوم د اوبو یوه چینه ده چې د زمریاني د غرونو په لمن کې «دو چینې» ته نیږدې موقعیت لري. «بن»

**زوبارک** : ظوبارک : ۴۵ ــ ۳۱، ۶۵ ــ ۷ «ن» : دا د میوند په ولسوالی کې یو کلی دی. «لیچ»

**ضحاک** :

---

21 -Azargh Shah



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ